Refugee Integration
Yorkshire and Humber

This project is co-funded by the European Union Asylum, Migration and Integration Fund. Making management of migration flows more efficient across the European Union.

# اړيکي جوړول، انعطاف رامنځته کول (Making connections, building resilience): د يورکشاير(Yorkshire) او همبر (Humber) د کډوالو د ادغام ستراتيژي – لنډيز

## پېژندنه

دا خپرونه د يوې پراخې پروژې **يورکشاير** او همبر د کډوالو ادغام، يوه برخه ده او د اروپايي اتحاديې د پناه غوښتنې، مهاجرت او ادغام صندوق په مالي ملاتړ جوړه شوې چې موخه يې په ټوله اروپايي اتحاديه کې د مهاجرت جريان اداره کول دي. د دې خپرونې منځپانګه د Migration Yorkshire يوازينی مسؤليت دی او په هيڅ ډول د تمويل کونکي، اروپايي کميسيون يا د انګلستان مسؤليت ادارې (UKRA) نظرونه نه منعکسوي. نه اروپايي کميسيون او نه هم UKRA د دې خپرونې د معلوماتو څخه د هر ډول کارونې لپاره مسؤل دي.

يورکشاير او همبرله جګړې او ځورونې څخه تښتيدلو خلکو ته د پټنځايونو ورانديز کولو اوږد او وياړلي تاريخ لري. زموږ سيمې خوارا ډېر وختونه د کډوالو او پناه غوښتنې په مسلو کې قوي رهبري له ځانه ښودلې ده. دا د کډوالو د ادغام په برخه کې د غوره تمرينونو د ډېری مثالونو کور هم دی. په هرصورت ډير څه بايد ترسره شي. د ادغام پر وړاندې لا هم خنډونه او ننګونې شته.

دا د نوي يورکشاير او همبر د کډوالو د ادغام د ستراتيژۍ يعنې 'د اړيکو جوړولو، د انعطاف رامنځته کولو' لنډيز دی، چې د 2022 په لومړيو کې پيل شوی. په دې کې هغه ليد او ارزښتونه شامل دي چې ستراتيژي خبروي او تعريفوي او همدارنګه زموږ د سيمې لپاره د ادغام تعين شوي لومړيتوبونه هم پکې شامل دي. دا له 300 ګټه اخيستونکو سره تر مشورې وروسته رامنځته شوی او بشپړ سند (په انګليسي کې) د Migration Yorkshire وېبپاڼې (www.migrationyorkshire.org.uk) څخه ترلاسه کيدی شي. دا ستراتيژي د نوي سيمه ايز کډوال د ادغام انجمن لخوا څارل کيږي.

نوې ستراتيژي د يوې وسيلې په توګه ډيزاين شوې څو د پراخه سکتورونو او جغرافيايي ساحو څخه د ګټه اخيستونکو ملاتړ وکړي. دا به زموږ په سيمه کې د کډوالو ادغام پروفايل لوړ کړي او د هغه کډوالو لپاره چې دلته ژوند کوي د پايلو په ښه کولو کې مرسته وکړي. لاندې تشريح شوي ستراتيژيک لومړيتوبونه هيله ښنوونکي دي او په يورکشاير او همبر کې د کډوالو ادغام لپاره زموږ د ليد برخه جوړوي. خو ډير کار بايد ترسره شي او موږ هيله لرو چې تاسو زموږ د ليد په پوره کولو کې مرسته کولی شئ.

د دغه لنډيز موخه دا ده چې ستراتیژي د کډوالو، پناه غوښتونکو او نورو خلکو لپاره د لاسرسي وړ کړي کوم چې له جګړې او ځوروني څخه د تېښتې تجربه لري او تاسو ته بلنه درکوي چې د ادغام پروسې مالکیت واخلئ. تاسو په انګلیسي زده کولو او وده ورکولو، رضاکارانه کار کولو، روزنې، زده کړې، کار کولو او په هغو ټولنو کې چې تاسو ژوند کوئ، نوي خلک لیدلو سره هغو مهارتونو، نظرونو او تجربو سره مرسته کوئ چې زموږ سیمه یې بډایه کړې او ګټه یې ترې پورته کړې. نوې ستراتیژي له موږ سره مرسته کولی شي چې لا نور لاسته راوړو که موږ په ګډه کار وکړو څو ډاډ ترلاسه کړو چې زموږ سیمه د هغو خلکو هرکلي ته دوام ورکوي چې د جګړې او ځوروني څخه د تیښتې تجربه لري او د ادغام غوره ممکنه خدمتونه رامنځته کوي.

## لید او ارزښتونه

"یورکشایر او همبر یوه سیمه ده چیرې چې کډوال د خوندیتوب او ښه راغلاست احساس کوي، خپل ژوند بیا رغوي، خپلې هیلې پوره کوي او د د دغو ټولنو په ټولنیز، اقتصادي او کلتوري ژوند کې مرسته کوي چیرې چې دوی ژوند کوي."

دا لید د یو شمیر داسې ارزښتونو لخوا چې موږ د یوې سیمې په توګه تعریفوي او هر هغه څه چې موږ یې د کډوالو ادغام د ممکنولو لپاره ترسره کوو زموږ د خدمتونو، پالیسی او د کډوالو او پناه غوښتونکو سره د چلند په ګډون، بشپړ شوی. ارزښتونه له موږ سره د ادغام پر وړاندې د خنډونو په له منځه وړلو کې موږ ته د هغه څه په رایادولو سره چې په خطر کې دي کله چې خلک له جګړې او ځوروني څخه تښتي چې په یورکشایر او همبر کې خپل ژوند بیا ورغوي، مرسته کوي.

زموږ ارزښتونه

- ښه راغلاست - کډوال په هغو ټولنو کې پټنځای او شفقت پیدا کوي چیرې چې دوی مېشت کېږي.
- ادغام - خدمتونه او ټولنې په فعاله توګه د خنډونو پر لرې کولو بوخت دي او د کډوالو اړتیاوو پوره کولو لپاره ښه سمبال دي.
- همکاري - ګټه اخیستونکي په دوامداره شراکت کې یوځای کار کوي چې یو د بل غوښتنې او پیاوړتیا وپېژني.
- فرصت - کډوال کولی شي خپل ژوند بیا جوړ کړي، خپلې هیلې پوره کړي او په هغو ټولنو کې چې دوی ژوند کوي. ونډه واخلي.
- مساوات - کډوال د بېلابېلو ځانګړتیاوو، اړتیاوو او هیلو سره د افرادو په توګه پېژندل کیږي او عادلانه چلند ورسره کیږي.

## ستراتیژیک لومړیتوبونه

### کور موندنه او چاپیریال

- ✓ ټول کډوال په وخت او ښه کیفیت لرونکي د کور ملاتړ او مدافع خدمتونو ته د کور د اختیاراتو، حقونو او مسؤلیتونو په اړه معلوماتو په ګډون، لاسرسی لري.
- ✓ د پناه غوښتنې ټول هستوګنځایونه د ځایي چاروا‌کو معیارونه پوره کوي او ځایي ګټه اخیستونکي کولی شي په مؤثره توګه تدارکات او مطابقت دواړه وڅاري.

- ✓ هغه کډوال او پناه غوښتونکي چې په جلا یا لرې پرتو ځایونو کې ځای پر ځای شوي یا په بیرني استوګنځي کې دی، کولی شي د عرضي د بېلابېلو بڼو له لارې خدمتونو ته لاسرسی ومومي یا د اړتیا په صورت کې د ترانسپورت مرسته ولري.
- ✓ د کورنۍ پر اساس ځای پرځای کوونې د بې سرپرسته پناه غوښتونکي ماشوم UASC لپاره د پالونکي ملاتړ سره شتون لري.
- ✓ کډوال او پناه غوښتونکي په ښه راغلاست کېدونکي او دوستانه ګاونډیو کې ځای پر ځای شوي، ځایي معلوماتو ته لاس رسی لري او کولی شي په خوندي توګه ځایي ځایونه لکه دوکانونه، بازارونه، پارکونه او عامه ترانسپورت وکاروي.

## اقتصادي ادغام

- ✓ د کډوالو مهارتونه، وړتیاوې او کاري تجربه په لومړي فرصت کې ارزول کیږي او پیژندل کیږي.
- ✓ ټول کډوال او پناه غوښتونکي د اړتیا په وخت کې خیریه یا بیړنۍ مرستې ته لاسرسی لري چې د بې وزلۍ مخه نیسي.
- ✓ کډوال مناسب او دوامداره کارموندنې او د سوداګرۍ پراختیا ملاتړ پروګرامونو ته لاسرسی لري چې د دوی بېلابېلې اړتیاوې پوره کوي او د کار محلي بازارونو پورې اړوند دي.
- ✓ کډوال لوړو زده کړو، روزنې، داوطلبۍ او کاري تجربې فرصتونو ته لاسرسی لري چې د دوی هیلې پوره کوي او د کار وړتیا یې زیاتوي.
- ✓ کارګومارونکي او سوداګرۍ د کډوالو له حقونو او اړتیاوو خبر دي او په فعاله توګه د کډوالو کارموندنې ته وده ورکوي.

## روغتیا او ښه والی

- ✓ کډوال او پناه غوښتونکي ژر تر ژره تر رسیدو وروسته معاینه کیږي، بیړنې درملنې او واکسینونو ته لاس رسی لري او له ځایي GPs او غاښونو ډاکټرانو سره د راجستر کولو لپاره یې ملاتړ کیږي.
- ✓ کډوال او پناه غوښتونکي د ډیرو زیان منونکو ډلو لکه ښځې او معلولیت لرونکي خلکو په ګډون خپل حقونه پیژني، پوهیږي چې NHS او ټولنیزه پاملرنه په سیمه کې څنګه کار کوي او مناسبو خدمتونو ته لاسرسی درلودی شي.
- ✓ کډوال او پناه غوښتونکي د کیفیت لرونکي رواني روغتیا او هوساینې خدمتونو ته د هوساینې ډلې او فعالیتونو په ګډون لاسرسی لري چې د دوی اړتیاوې پوره کوي.
- ✓ د روغتیا او ښه والي ټول خدمتونه د NHS له لارښوونو سره سم د ښه کیفیت، مسلکي لیکلي او شفاهي ژباړې خدمتونه وړاندې کوي.
- ✓ کډوال او پناه غوښتونکي د روغتیایي ودې او پوهاوي خدمتونو ته لاسرسی لري او چمتو کوونکي په فعاله توګه د روغتیا نابرابرۍ په له منځه وړلو کې بوخت دي.

## ټولنه او تړاو

- ✓ یورکشایر او همبر د خپلو ځایي ګاونډیو، ټولنیزو او د ټولنیز چاپیریال او محلي رسنیو له لارې، کډوالو او پناه غوښتونکو ته د ښه راغلاست چاپیریال چمتو کوي.

- ✓ کډوال د انجمن له ټولو خلکو سره دوامداره اړیکي رامنځته کوي او له نورو سره د متقابل عمل لپاره معتبر فرصتونو ته منظم لاسرسی لري.
- ✓ کډوال او پناه غوښتونکي په انګلستان کي له خپلو حقونو او مسؤلیتونو څخه خبر دي او د اړتیا په صورت کي ښه کیفیت لرونکي قانوني مشورې او استازیتوب ته لاسرسی لري.
- ✓ کډوال د خوندیتوب احساس کوي، له پولیسو او نورو چارواکو سره د باور اړیکي رامنځته کوي او د جرم راپور ورکولو په اړه پوهه او ډاډه دي په ځانګړې توګه د کرکي جرم.
- ✓ په سیمه کي د کلتور، تفریح او سپورټ سکتورونه په فعاله توګه د خوندي، لاسرسي وړ او ښه راغلاست فعالیتونو د عرضي د چمتو کولو له لارې د کډوالو په ادغام کي بوخت دي.

## کورنۍ او ځوانان

- ✓ کډوال او پناه غوښتونکي ماشومان انګلستان ته له رسیدو وروسته ژر تر ژره په ښوونځیو او کالجونو کي زده کړې ته لاسرسی موندلی شي چي خوندي او ښه راغلاست کوونکي دي.
- ✓ کډوال د کورنۍ د موندلو او بیا یوځای کیدو په تړاو معلوماتو، مشورې او مرستي ته لاس رسی لري.
- ✓ کډوال او پناه غوښتونکي په انګلستان کي له خپلو حقونو او مسؤلیتونو خبر دي لکه د ماشومانو ساتنه او کورني ناوړه ګټه اخیستنه او له کلتوري پلوه حساسي مشورې او ملاتړ خدمتونو ته لاسرسی لري.
- ✓ د ماشوم مناسبه او د لاسرسي وړ پاملرنه او د کورنۍ نور د ملاتړ خدمتونه د ټولو کډوالو کورنیو او د کورنۍ غړو لپاره څوک چي ورته اړتیا لري، شتون لري.
- ✓ ځوان کډوال او پناه غوښتونکي دبي سرپرسته پناه غوښتونکي د ماشومان او پاملرني پریښودونکو په ګډون د خوندیتوب، ملاتړ احساس کوي او په خپلو نوو ټولنو کي د بیا رغووني، پراختیا او پرمختګ لپاره فرصتونه لري.

## ژبه او اړیکي

- ✓ د کډوالو او پناه غوښتونکو د انګلیسي ژبي اړتیاوې د دوامداره او جامع وسیلو په کارولو سره سیمي ته له رسیدو وروسته ژر تر ژره ارزول کیږي.
- ✓ د انګلیسي د نورو ژبو ویونکو لپاره [ESOL] د عرضي ټول ډولونه په ټوله سیمه کي په اغیزمنه توګه پلي او وده ورکول کیږي او کډوال په سیمه ایزه توګه مناسبي عرضي ته لاسرسی پیدا کولی شيکډوال او پناه غوښتونکي د ESOL یو لړ عرضي ته لاسرسی لري چي د دوی د انفرادي اړتیاوو او هیلو سره مناسبي وي د غیر رسمي زده کړې فرصتونو په ګډون.
- ✓ خدمتونه او سازمانونه مناسب، ښه کیفیت لرونکي او مسلکي لیکلي او شفاهي ژباړې خدمتونه د لاسرسي وړ بڼه کي وړاندې کوي.
- ✓ کډوال او پناه غوښتونکي په ډیجیټل ډول شامل دي او خدمتونو ته د لاسرسي او انلاین ملاتړ لپاره اړین مهارتونه، تجهیزات او ارتباط لري.

## معلومات او ډیټا

- ✓ په یورکشایر او همبر کي خدمتونه او سازمانونه د کډوالو او پناه غوښتونکو په اړه د معلوماتو او معلوماتو سرچینو ته لاسرسی لري او کولی شي په مؤثره توګه یې وکاروي.
- ✓ خدمتونه او سازمانونه د کډوالو د ادغام په اړه معلومات په ثابتو، اغیزمنو او پیاوړو لارو سره چیرې چي تړاو ولري، د معلوماتو د ساتني قانون سره په مطابقت، راټولوي، ذخیره کوي او شریکوي.
- ✓ په سیمه کي د څیړني ټولنې او نورو ګټه اخیستونکو ترمنځ منظمه ښکیلتیا او همکاري شتون لري چي د لومړیتوب معلوماتو تشي په ګوته کوي او د څیړني د پایلي په اغیزمن توګه خپرول هڅوي.
- ✓ د کډوالو ټولني د ادغام په اړه د ډیټا په تولید، څیړني او معلوماتو کي ښکیلې دي.

- ✓ د کډوالو په ادغام کې د خدمتونو او مداخلو اغیزې په منظم ډول د چمتو کوونکو او خپلواکو څېړونکو لخوا څارل او ارزول کیږي.

## د خدمتونو پلان جوړول او عرضه

- ✓ رهبري په خدمتونو کې په ځانګړې توګه په عامه سکټور کې د کډوالو ادغام او د ښه راغلاست او ټولشموله خدمتونو پراختیا ته ژمن دي.
- ✓ خدمتونه د کډوالو او پناه غوښتونکو لپاره مثبت عمل ته وده ورکوي او د اړتیا وړ سرچینې تخصیصوي څو هغه زیانونه له منځه یوسي چې دوی ورته د عریضې د لاسرسي په برخه کې ورسره مخ دي.
- ✓ د کډوالو ادغام د چمتو کوونکو په ټولو سازمانونو کې د کمیشنرۍ، استخدام، او زده کړې او پراختیا په ګډون، ځای په ځای شوی دی.
- ✓ د خدماتو چمتو کوونکي ډاډ ورکوي چې ټول اړوند کارمندان د کډوالو او پناه غوښتونکو د اړتیاوو په اړه په کافي اندازه روزل شوي او دا روزنه په منظمه توګه اپډیټ کیږي.
- ✓ چمتو کوونکي په یورکشایر او همبر کې جامع خدمتونه رامنځته کوي او د پیاوړي شراکت، پیاوړي راجع کولو میکانیزمونو او ګډې کمیشنرۍ له لارې په اغېزمنه توګه له یو بل سره همکاري کوي.

## داوطلبانه او ټولنیز سکټور

- ✓ په یورکشایر او همبر کې د کډوالو داوطلبانه او ټولنیز سکټور دوامداره تمویل ته لاسرسی لري چې دا وړتیا ورکوي چې د کډوالو په ادغام کې پوهه او مهارت ته وده ورکړي او ویې ساتي.
- ✓ په عامه او خصوصي سکټورونو کې مهم ګټه اخیستونکي د کډوالو د دواطلبانه او ټولنیز سکټور (VCS) له ځواک څخه خبر دي او په اغیزمنه توګه له سکټور سره ښکیل دي.
- ✓ په سیمه کې ټول اړوند ځایونه متحرکې، ښه تمویل شوې د کډوالو داوطلبانه او ټولنیزې ډلې او سازمانونه لري.
- ✓ یورکشایر او همبر د کډوالو د ټولنې پیاوړي او قوي سازمانونه لري چې په اغیزمنه توګه د کډوالو د ټولنو استازیتوب کوي.
- ✓ د سیمې VCS د کډوالو، پناه غوښتونکو او د نورو بګرونډونو درلودونکو خلکو لپاره چې غواړي په ادغام کې مرسته وکړي د رضاکارانه کار د پام وړ فرصتونه چمتو کوي.

## ګډون

- ✓ د کډوال استازیتوب په ټوله سیمه کې په کاري ځواک، بورډونو، شراکتونو او رهبرۍ پوستونو کې په معنی لرونکې توګه ترسره کیږي.
- ✓ کډوال د موجوده ګډون انجمنونو او میکانیزمونو له لارې د خدمتونو او سازمانونو په جوړولو کې دخیل دي.
- ✓ کډوال خپل نظرونه په خپلواکو انجمنونو او سازمانونو کې چې د ادغام پر پروسه اغیزه لري، بیانولی شي.
- ✓ خدمتونه، سازمانونه او ځایي ټولنې په فعاله توګه له هغو خنډونو سره د مبارزې په برخه کې بوخت دي چې د کډوالو بیلابیلې ډلې ورسره مخ دي او د ګډون لپاره کافي هڅوونې چمتو کوي.
- ✓ کډوال فرصتونه لري چې په بېلابېلو رسنیو کې داستان ته شکل ورکړي او کولی شي په سیمه کې د اجباري مهاجرت او پناه غوښتنې په اړه پر عامه افکارو اغېزه وکړي.